# روح القدس

## د خدای ځواکمن حضور

### د پیل ټکی

ایا کوم وخت په یاد لرئ چې د یو چا شتون ستاسو په خواه کې ستاسو د زړه قوت ګرځېدلی وي، تاسو يې هڅولی وئ او یا لارښوونه یې درته کړئ وي او ستاسو سره یې په صبر کې مرسته کړې وي؟

او کېدای شي کوم وخت ستاسو شتون د یو بل کس د بریالیتوب او کامیابۍ سبب شوی وي؟

### بحث او خبرې

**مونږ ټول د ژوند په سفر کې یو.**
اوس مونږ د ایماندارانو په توګه، د خپل ژوند په خورا مهم سفر کې یوو، چې د څښتن د پیروي دپاره مو قیام کړی دی.

خو "شاګرد کېدل "کېدای شي یوه ننګونکي موضوع وي. حتی ځیني وخت غیر ممکن وي.

- تر اوسه پورې د یو شاګرد په توګه په خپل سفر کې مو څنګه وده کړې ده؟
- د خپل سفر په لاره کې له کومو ننګونو سره مخامخ شوي يئ؟
- د سفر په اوږدو کې به کوم شیان له تاسو سره مرسته وکړي؟

### په کلام باندې تعمق او غور

څنګه زمونږ دپاره امکان لري چې په خپل سفر کې امین او وفادار شاګردان اوسو؟

لاندې ایتونه ولولئ په کومو کې چې عیسی مخکې د مصلوب کېدلو په روښانه توګه د خپلو شاګردانو سره خبرې کوي.

په دې هکله چې عیسی مونږ ته څنګه قدرت راکوي چې له هغه نه پیروي وکړو، څه شی درزده کوئ؟

- یوحنا ۱۴: ۱۶ـ۱۸
- یوحنا ۱۴: ۲۶
- یوحنا ۱۶: ۱۳

د پنتیکاست په ورځ، عیسی خپله ژمنه سرته رسوي، شاګردان یې په روح القدس د تعمید غسل اخلي او قدرت تر لاسه کوي.
(د رسولانوعملونه ۲).

### اصلي مفکوره

ښه خبر دا دی چې عیسی پخپله د یو انسان په توګه ژوند وکړ او د هغو ستونزو او سختیو سره چې مونږ ور سره مخامخ یو، اشنا دی. هغه زمونږ سره ژمنه کړې ده چې د ژوند په سفر کې به مونږ یوازې نه پرېږدي او د روح القس په ورکولو مونږ ته قدرت راکوي.

سپیڅلی کتاب وایي څوک چې ایمان راوړي هغه په روح القدس باندې مهر کېږي. هم هغه مونږ ته تعلیم راکوي چې وکولای شو د روح القدس سره لاړ شو او د هغه د قدرت او حضوره ډک شو. دا د روح قدرت دی چې مونږ کولای شو:

- د سمو اړیکو په لرلو د یو بل سره ژوند وکړو (غلاتیان ۵: ۲۲ـ۲۴)
- په اطاعت او قدسیت کې ګام واخلو (غلا تیان ۵: ۱۶)

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- اغیزمنه دعا ولرو ( رومیان ۸: ۲۶)
- په دې نړۍ کې شاهدان اوسو (د رسولانو عملونه ۱: ۸)

په همدې دلیل دی چې نوی عهد تل په کلیسا او زمونږ په ژوند کې د روح القدس کار ته اشاره کوي.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

له همدې امله په ګډه څو شیبې دعا وکړئ چې قدرت لاس ته راوړئ او د روح القدس نه ډک شئ. کولای شئ په دې شکل دعا وکړئ:

- د عیسی څخه شکر وکړئ چې روح القدس یې راولېږه او خپل ذهن، زړه او جسم د روح القدس د لاسته راوړلو دپاره تیار کړئ.
- خپله اړتیا او جذبه یو ځل بیا د روح القدس د ډکېدو دپاره ووایئ.
- په دعا کې ووایئ: "ای روح القدسه، راشه".

څو دقیقې په عبادت او ستاینه کې، د ښېتن انتظار وباسئ او یا په چوپتیا کې د خدای پر ژمنو غور وکړئ. په یاد ولرئ چې خلک د روح القس د ډکېدو او د هغه نه د عطایاو په وخت کې، بېلابېلې تجربې درلودې. د ځینو دپاره په چوپتیا او نرمښت کې پېښېدلې او د ځینو نورو دپاره په هیجان او خوشحالی کې. هر هغه څه چې د دعا په وخت کې پېښیږي، باید باور ولرو چې د روح القدس د ډکېدو ژمنه د ټولو هغو کسانو دپاره ده چې په دوامداره او جدي توګه د روح القدس د ډکېدو په لټه کې دي او د هغه دپاره دعا کوي.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- په یاد ولرئ چې په دوامداره توګه د روح القدس نه ډک شئ، د دې کار د کولو دپاره، خپله ورځنۍ دعا دا ډول پیل کړئ.
  - ای روح القدسه، هیله کووم نن ورځ له نوی ما ډک کړه او په خپل حضور ماته برکت راکړه.
  - ای روح القدسه، ماته قدرت راکړه د هغو کسان سره چې نن به اړیکه کې یم له هغو سره په مینه چلند وکړم، په هماغه شکل چې ته مینه کوی.
  - ای روح القدسه، ماته قدرت راکړه چې په پاکۍ او اطاعت کې ګام واخلم.
  - ای روح القدسه، ماته یې رازده کړه چې څنګه ستا د نقشې او هدف سره سم دعا وکړم.
  - ای روح القدسه، ماته وړتیا راکړه چې ستا دپاره یو زړه ور شاهد اوسم.
  - وروسته له دې دعا، څو شیبې د ښېتن دپاره انتظار وباسئ.
- د هفتې په اوږدو کې د یو بل سره اړیکه ونیسئ او هغه څه چې ستاسو د لارښوونې، قوي کېدو او هڅونې لامل شوی دی، په ګډه شریک کړئ.

څنګه چې هره ورځ د لوقا انجیل او زبور لوستلو ته دوام ورکوئ، افسسیان ۵: ۱۸-۲۰ هم ولولئ. یو وخت شکرګزارۍ ته هم وټاکئ او په زړه کې ښېتن ته سرود جوړ کړئ. ایا کوم سرود شته چې و یې وایئ او خپل ملګري سره یې شریک کړئ؟ د اجتماعي شبکو له لارې یې هغه ته ورولېږئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved